قد یحوی التفاصیل من یستحضر المجمل

# البحر الزخار من قلم ابی عمار

او

# دریاب په کوزه کښې

یعنی

ضروری مسئلې فرائض او شرائط د کلمې، عقیده، اسماء حسنی

د سورتونو ومونه، د مونځ فرائض او مستحبات، د اودس فرائض او مفسدات،

د غسل فرائض مستحبات او اقسام، د حج اقسام فرائض او مستحبات وغیره)

په لنډو شعرونو کښې راجمع کول

تألیف

[illegible]

Akhtar Afridi

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

# عظیم الشان خوشخبری

## ★ اب مکتبہ اشاعت آپ کے جیب میں ★

دنیا میں کسی بھی جگہ علماء جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف

Play Store اور Website سے بالکل فری انسٹال / ڈاؤن لوڈ کریں۔

## انسٹال / ڈاؤن لوڈ کرنے کا طریقہ

Play Store سے " مکتبۃ الاشاعت " انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں مطلوبہ کتاب ڈاؤن لوڈ کریں

نیز اپنی کتاب کو Website / Play Store پر مفت شائع کرنے کے لیے بھی رابطہ کریں۔

### نوٹ

ویب سائٹ پر جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف مثلاً تفاسیر، فتاویٰ جات، شروح، سوانح حیات، نوٹس، درس نظامی کے کتب وغیرہ دستیاب ہیں آپ وقتاً فوقتاً Play Store اور website پر چیک کیا کریں مزید معلومات کے لیے دیے گئے واٹس ایپ نمبر پر رابطہ کریں۔ وہاں آپ کو آسانی کے لئے مطلوبہ کتاب کا link دیا جائے گا اور آپ کو بہترین رہنمائی دی جائے گی جس سے آپ کو مطلوبہ کتاب آسانی سے ملے گا۔ پلے سٹور پر ترجمہ و تفسیر یا سورتوں کے نوعیت والے تصانیف دستیاب ہوں ہیں کیونکہ ایک PDF میں اس کا مطالعہ مشکل ہوتا ہے تو ہم نے آسانی کے لیے ہر ایک پارے کے لیے الگ الگ بٹن بنایا ہے تاکہ قارئین کے لیے پڑھنے میں آسانی ہو باقی تمام نوعیت کے تصانیف مندرجہ ذیل ویب سائیٹ پر دستیاب ہوں گے۔ جو Goggle پر مزکورہ ویب سائیٹ میں سرچ کرنے سے یا ہمارے مندرجہ بالا app " مکتبۃ الاشاعت " کو پلے سٹور سے انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں سرچ کرنے سے ملیں گے۔ آسانی کے لیے ویب سائیٹ پر links ملاحظہ کیجئے۔ جزاکم اللہ

**WhatsApp:0320-1914145**

ویب سائیٹ **maktabatulishaat.com** (مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام)

قد يحوى التفاصيل من يستحضر الجمل

# البحر الزخار من قلم ابی عمار

# او

# دریاب په کوزه کښې

## یعنی

ضروری مسئلے( فرائض او شرائط د کلمے , عقیده ، اسماء حسنی ،د سورتونو نومونه ، د مونځ فرائض او مستحبات ، د اودس فرائض او مفسدات ، د غسل فرائض مستحبات او اقسام ، د حج اقسام فرائض او مستحبات وغیره ) په لنډو شعرونو کښې راجمع کول.

تألیف العالم النبیل الشیخ ابوعمار عبدالوکیل بن شمس الرحمن صاحب

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

اسم الکتاب : البحر الزخار من قلم ابی عمار
او دریاب په کوزه کښ

تألیف : العالم النبیل الشیخ ابوعمار عبدالوکیل
بن شمس الرحمن صاحب

کمپوز : غلام نبی بن دیارخان صاحب

تعداد : ۱۰۰۰

اشاعت : اول

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

فهرست:


۱. سریزه ........................................ ۱
۲. شروط الصلوة ........................................ ۱۷
۳. ارکان العلاة ........................................ ۱۷
۴. واجبات الصلوة ........................................ ۱۸
۵. سنت ........................................ ۱۹
٦. مستحبات دمانځه ........................................ ۲۰
۷. مکروهات دمانځه ........................................ ۲۳
۸. مفسدات دمانځه ........................................ ۲۴
۹. فرائض د اودس ........................................ ۲٦
۱۰. سنن الوضوء ........................................ ۲٦
۱۱. مستحباب د اودس ........................................ ۲۸
۱۲. اداب د اودس ........................................ ۲۸
۱۳. نوافل د الوضوء ........................................ ۲۹
۱۴. مکروهات الوضوء ........................................ ۳۰
۱۵. باب مناهي الوضوء ........................................ ۳۱
۱٦. نواقض الوضوء ........................................ ۳۲
۱۷. فرائض د غسل ........................................ ۳۳
۱۸. سنت د غسل ........................................ ۳۴
۱۹. د غسل اداب ........................................ ۳۴
۲۰. اقسام د غسل ........................................ ۳۵
۲۱. باب الغسل المسنون ........................................ ۳٦


یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

۲۲. دحج یو څو ضروري مسائل ........................ ۳۷
۲۳. اقسام الحج، حج افراد ........................ ۳۷
۲۴. حج تمتع ........................ ۳۸
۲۵. حج قران ........................ ۳۸
۲۶. فرائض د حج ........................ ۳۹
۲۷. واجبات د حج ........................ ۳۹
۲۸. سنن د حج ........................ ۴۰
۲۹. فرق په مینځ د حج د نارینه او زنانه کښي ........................ ۴۱
۳۰. خصوصي احکام د زنانه ........................ ۴۲
۳۱. مسنون طریقه د تلبیه ........................ ۴۳

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله على الايمان والاسلام وعلى العقيدة الصحيحة وسائر اركان الاسلام والصلاة والسلام على سيد الانام وعلى اله وصحبه الصابرين فى الباساء والآلام اما بعد :

هر مسلمان او کلمه ویونکے او آخرت منونکے انسان د الله د رضا کولو ، او ځان دپاره د بخښنے لټولو او مخلوق د الله ته د خیر رسولو او ځان دپاره د صدقے جاریے د پریخودو کوشش کوی .

مونږه دا یو څو خبرے چه اول د کلمے ۱۲ فرائض او شرائط دی

دویم عقیده ده .

دریم اسماء حسنی دی .

څلورم اسماء د سورتونو د قرآن دی .

پنځم د مونځ فرائض مستحبات دی .

شپږم د اودس فرائض او مفسدات دی .

ووم د غسل فرائض او مستحبات او اقسام دی .

اتم د حج اقسام او فرائض او مستحبات دی .

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

الله کریم دے دا د خپلے رضا او زمونږ د مغفرت او عوامو رونړو خویندو او طلباء کرامو او علماء کرامو ته دے الله د خیر رسولو ذریعه اوګرځوی .

الله کریم دے په خپل رحمت عظیم باندے زما د والدینو او استاذانو او زما دپاره صدقه جاریه اوګرځوی .

اے الله ته ئے په خپل دربار کښ قبول کړے .

اے زما عظیمه ربه د دینه خلقو ته لویه فائده د خپلے رضا دپاره اورسوے آمین یا رب العلمین .

بسم الله الرحمن الرحیم

د کلمے طیبے فرائض

په « لا اله الا الله محمد الرسول الله »کښ دولس فرض دی .

اجمال په شعر کښ :

الفاظ معنی یقین صدق دعوة او محبت دے

اخلاص او انقیاد قبول څه کفر په اصـــــنام

عمل په مقــتضی دکلمے اواستقامت دے

چه یو پدیکښ نه وی دے جنت پده حرام

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

عبدالعزیز بن باز رحمه الله په مجموع فتاوی کښې فرمائی : بعض اهل علمو د کلمې اته شرطونه ذکر کړی دی او دے دوه شعرونو کښې ئے هغه راجمع کړی دی :

علم یقین واخلاص وصدقک مع
محبة وانقیاد والقبول لها

وزید ثامنها الکفران منک بما
سوی الاله من الاشیاء قد الها

الاول : علم په معنی د کلمې چه منافی د جهل سره دا ضروری دے .

الثانی : الیقین المنافی للشک ــ یعنی ددے کلمې د ویونکی به دا یقین وی چه الله لائق د بندګئ دے په حقه باندے .

الثالث : الاخلاص ــ او ددے دا مطلب دے چه بنده خپل رب لره عبادت خاص کړی بس کله چه څه شے د الله نه سوی نبی ته یا ولی ته یا ملک ته یا یو درګاه ته یا یو پیری او یا ددینه علاوه بل څه ته منسوب کړی نو دے انسان د الله سره شریک جوړ کړو او دے شرک د کلمې نه د اخلاص هغه صفت اوچت کړو .

الرابع : الصدق ــ او ددے مطلب دادے چه دا ویونکے به دے وینا کښې رشتنے وی زړه به ئے ژبے سره برابر وی او ژبه به ئے د زړه سره برابر وی .

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

«فإن قالها باللسان فقط وقلبه لم يؤمن بمعناها فإنها لا تنفعه , ويكون بذلك كافرا كسائر المنافقين .»

کچرے دا کلمه په ژبه صرف وائی او د زړه نه ئے ددے په معنی ایمان نه وی نو دا کلمه دته فائده نه ورکوی اوپدے وجه به دے د عامو منافقانو پشان کافر وی . ( مجموع فتاوی ج ۱ ص۲۳۱)

الخامس : المحبة ـــ ومعناها أن يحب الله عز وجل , فإن قالها وهو لا يحب الله صار كافرا لم يدخل في الإسلام كالمنافقين .

«محبة» مطلب دادے چه ددے ویـونکی بـه د الله سـره مینـه وی کچرے کلمه وائی لیکن دے د الله سـره مینـه نـه سـاتی نـو دے کافر دے او اسلام کښ ندے داخل پشان د عامو منافقانو .

او ددے دلیل «قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ الآية , وقوله سبحانه : سورة البقرة الآية ١٦٥ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَتَّخِذُ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَنْدَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللَّهِ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِلَّهِ»

السادس : «الانقياد لما دلت عليه من المعنى» يعنى دے کلمے چه په کومه معنی دلالت اوکړو نو هغې ته غاړه کیخودل .

حاصل دا چه یواځے د الله بنـدګی بـه کـوی او د هغـے د حقانیـت عقیده به ساتی کچرے دا کلمه ئے او وئیله لیکن د یـو الله بنـدګی نه کوی او د شریعت تابع نه دے بلکه د شریعت نه ځان غـټ ګنـړی نو دے مسلمان نشی کیدے لکه ابلیس او د هغه امثال شو .

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

السابع : «القبول لما دلت علیه» دا کلمه چه په څه دلالت کوی هغه قبلول چه هغه صرف د یو الله بندگی ده او د غیر الله بندگی پریخودل .

الثامن : «الکفر بما یعبد من دون الله» کفر کول په هغه الهو چه د الله نه علاوه د هغوئی بندگی شوے وه .

او د غیرالله د بندگئ نه بیزاره کیدل او د هغې د بطلان عقیده ساتل الله کریم فرمائي «فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى لَا انْفِصَامَ لَهَا وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ»

(۲۵۶ البقره ) . ( مجموع فتاوی ص ۲۳۱، ۲۳۲)

ددینه علاوه څلور شرطونه چه هغه هم فرائض دی کلمه کښ هغه هم څه مجموع فتاوی ذکر کړی دی او څه نور علماء .

(۱) الفاظ د کلمې فرض دی .

یو دا چه دا الفاظ صحیح کول فرض دی کچرے یو سړے قصدا د کلمې د محمد الرسول الله په ځائے (مخمد ) په (خاء) سره اووائی نو ددے معنی غلطیگی .

بل دا چه دا الفاظ وئیل فرض دی خاصکر په وخت د مطالبه .

بل دا چه هم داسے الفاظ فرض دی څنگه چه کلمه کښ مذکور دی علامه رازی رحمه الله فرمائي :

کچرے یو سړے لااله الا الرحمن اووائی .

لا اله الا السبحان اووائی .

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

بلكه ټول نمونه د الله ذكر كړي ليكن (الله ) لفظ باندے راتلل نـه وى كړى نو دے مسلمان نشى ګرزيدے .

(٢) معنى د كلمے صحيح كول څكه چه د كلمے په معنـى بانـدے يو سړے نه پوهيګى نو هغه مؤمن نه دے .

عبدالعزيز بن باز رحمه الله فرمائى :

«وهذه الكلمة العظيمة لا تنفع قائلها ولا تخرجه من دائرة الـشرك إلا إذا عرف معناها وعمل به وصدق به»

او دا عظيمه كلمه ويونكى ته څـه فائـده نـه وركـوى او نـه ئـے د دائرے د شرک نه اوباسى مګر هله چه معنى بانـدے څـان پوهـه كړى او عمل پرے اوكړى او تصديق ئے اوكړى .

(٣) عمل په مقتضى د كلمے څكه چه دے مخكښ عبارت كښ ذكـر شـو «الا اذا عرف معناها وعمل به وصدق به» او كلـه چـه عمـل او قول او عقيده خرابه وى او صاحب خپل شرک كښ غورزوى نـو دا عمل به د كلمے نه خلاف وى « كدعاء الاموات والملائكة والاصـنام والاشجار والاحجار والنجوم ونحو ذالک ...... والذبح لهم والنـذر والسجود لهم وغيره ذالک »

لكه سوال كول شو د مړو نه يا د ملائكو يا د درګاهونو ، يـا د ونو بوټو يا د ګټو نه يا ستورو يا داسے نـور ..... او دوئـى تـه حلالـے شوے او دوئى له نذر كول شو يا دوئى ته سجده كول شو .

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

(۴) استقامة په دے کلمه فرض دے فرمائی عبدالعزیز بن باز رحمه الله : ومتی وجد من المسلم معناها والاستقامة علیه فهو مسلم حرام الدم والمال .

کله چه د مسلمان نه ددے کلمے په معنی او پدے کلمے استقامت اوموندلے شو نو دے مسلمان دے او دده وینه او مال په بل مسلمان حرام دی . ( مجموع فتاوی ج ۱ ص ۲۳۲)

♣♣

## العقیده فی الاشعار:

رب یسر ولاتعسر وتتم بالخیر ۴۰: ۳ ظهر ۷ ذی قعده ۱۴۳۲

عقیده دے په الله کړه مهربان
متبع شه د نبی آخر زمـــان

د الله صفات بل چاته چه ورنه کړے
د دنـــیا نه به رخصت شے بے ایمان

یو هستی د پاک رسول پشانے نــشته
فعل او ترک کښ کامیابی د دوجهان

بل قرآن د پاک الله عظیم احسان دے
پاک د هر قسمه زیاتی او د نقصان

دا صفت د پاک الله غیر مخلوق دے
دروغ وئـــیلی وو جهم بن صفـــوان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔
Scanned by CamScanner

د الله لیدل ممکن غیر محـال دی

د سپوږمئ پشان به ئے وینی جنتیان

دا لیکل مے وسیله د خپل دیدار کړه

په دنیا کښ سـوزیـدلے په هجـــران

د جریر په روایت کښ دا مذکور دی

د قرآن سره شاهـــد دی صحیحان

نه والد دے نه مولود احد صمد دے

نه شبیه ورله څوک شته نه شریـکان

د یمین ساق او وجه نه انکار مه کړه

بلکه څومره چه مذکور دی په قـرآن

په آخر د شپے کښ ټیک دا نازلیګی

د رزقونو د بخنے کړی اعـــلان

د تمثیل تشبیه نه پاک مے رب سبحان دے

د تجسیم تعطیل قائل دی نافــرمان

بلکه وایو زمونږ ایمان دے په صـفاتو

په کوم شان چه مناسب وی د سبحان

استوی باندے ایمان حسب البیان دے

کیف او کم کښ توغل کړی بدعتیان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

ملائک د رب عـــباد تابعـداران دی
پاک د هر قسمه عیبونو او د عصیان

رسولان ټول محبوبان الله ته ګران دی
دوړے لـــوئے ګناه دی معصومـــان

په ایمان کښ فرق نشته ټول نبیان دی
محمد (ص) پدوئی کښ نمر دے د آسمان

کتابونو صحیفو کښ څلور غـــوره
دا توراۃ انجیل زبور دے بل قـــرآن

باقی سل وے صحیفے چه هدایت وو
هر کتاب وی په امت عظیم احسان

آخرت باندے ایمان حسب القرآن دے
تناسخ ســـــره حساب مني هندوان

خیر او شر د پاک الله نه لیکل شوے
په انکارئے چرے نـــشے مســـلمـان

په مخلوق کښ غوره روره محمد دے
ورپسے دی درجه کښ تـــول نـبـیـان

دے امت کښ شرافت د صداقت دے
په صدیق عمر پسے دے پـــاک عثمان

د علی په قرابت کښ هیڅ شک نشته

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

شلـــورم دے درجـــــه کښې راروان

د حسین حسن نه زار شم دا ګلان وو

لیکن خیال کـــــړه د ماما ابن سفیان

که انصار که مهاجر دی رب ستائیلی

فتح اوګوره ګـــــــواه آلـــعمرآن

اُمهات المؤمنین مونږ له مثال دے

عائشې ته رب ورکړے عظیم شان

رقیه ام کلـثوم زیـــنـــب بـــنات دی

فاطمې ته رب ورکـــــړی وو حسنان

د لیکلـــــو د اعمالـو کاتـــبان دی

ناست هر وخت وی په اوګو د هر انسان

د نکیر منکر دا سوال او جواب حق دے

عذاب حق دے رونړو نشئ رافضـیان

آخرت کښې به اعـــمال تللے کیـږی

وزن حق دے دا اعلان دے د قرآن

پاک نبی به دکوثر په حوض ولاړ وی

وی ساقی به د محشر پدے مـیــدان

شفاعت باندے ایمان لـــــره صاحـــبه

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

چه نصیب دی شفاعت شی په ماګران

خوش نصیبه به جنت کښې همیشه وی

هر بیان په هغې کم دے هر بیان

چه دے زړه کښې څه تیریګی ملاویګی

دے سره چه خوشحالۍ شی د عیان

د بدبختو کافرانو سوزیدل دی

کړیدل دی جړیدل دی هر زمان

مؤمنان ګهنګاران به ترے بهر کړی

مهربان دے مهربان دے مهربان

اے عیانه مهربانه پاک سبحانه

ته ئے معاف کړے نافرمان دے نافرمان

( من قلم الشیخ ابوعمار ۴۳ :۴، ۷ ذی قعده ۳۲هجری ـــ ربنا تقبل منا انک انت السمیع العلیم )

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

«وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى»

( اشعار )

الله تــه الاول ئے الآخر ئے هــر زمــان ئــے
شریک درخه ځوک نشته الاحد پدوجهان ئے

الله ته الرشــيـد الرحـيم الرحـمـــن ئــے
یا الرافع الرقـیب الـرزاق سره عـیـان ئے

ته رب العلمین ئے الرؤف مهربــان ئے
الصمد الصبـور ذوالـجلال والاکرام ئے

الباســـط الـــبـارئُ الـبـاعث البـصیرُ
الـباطن الـباقی البدیع البر ماته گران ئے

الواجـد الواحـد الـــودود الـوهـــاب
الواسع الوارث ته مالک د کل جهان ئے

الوالی الولی ئے الـــوکیل ته کافــی ئے
الهادی رالیگونکے د رسلو د قـــرآن ئے

یا الجامع الجلیل الجبار رحم اوکـــړے
الخالق الخافض الخبیر په هر انسان ئے

الحی الحـمید الحـبیب الحـــفیـــظ

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

الحکم الحکیم ته الحق په پاک قرآن ئے

الملک المؤمن المهیمن المجید

هم ته مالک الملک ئے المقیت د هر حیوان ئے

المنتقم المغنی المانع المتین

المحصی المصور دهر کون ومکان ئے

المقسط المعز والمذل المتعالی

مالک یوم الدین ئے المجیب د ناتوان ئے

هم ته المقدم المؤخر ئے د هر شی نه

المحی الممیت د هر ذی روح پدے جهان ئے

یا النافع والنور والشهید والشکور

یاربه ته ئے قبول کړے السمیع والسلام ئے

العدل العزیز العلیم العظیم

یا ربه معافی اوکړے العفو د عصیان ئے

پردے اچول ستا دی الغفار المغنی

اے ربه الغفور ئے نهایت مهربان ئے

یا ربه الفتاح ئے القهار القیوم ئے

القادر القدیم ته په هر جن وانسان ئے

القابض الکریم والباطن الحلیم

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

المبدی المعید القوی په هر سلطان ئے

الماجد المجید ئے العلی الکبیر

الضار المقتدر سره ئے پریګډے عجب شان ئے

الله ته اللطیف ئے هر څه وینے التواب ئے

توبه مے ده زما ربه بیا به نه کوم عالی شان ئے

## اشعار اسماء سور القرآن لضبط الخواص والعوام

فاتحه او بقره آل عمران

دا چینی دی دتوحید عظیم الشان

دا نساء او مائده انعام انعام دے

په اعراف انفال توبة یونس پشان

هود یوسف رعد پشان د ابراهیم دی

حجر نحل اسراء کهف دی ګویان

که مریم طه که څومره انبیاء دی

حج دتهولو مؤمنانو نور فرقان

شعراء نمل قصص او عنکبوت

روم لقمان سجده احزاب کړی دسبحان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔
Scanned by CamScanner

دسبا فاطر یس ته کړل صفت
ص زمر دحوامیمو په بیان
محمد ته فتحه ورکړه دحجرات
په مضمون د ق او زاریت پشان
طور او نجم قمر واړه درحمان دی
واقعه حدید دی دواړه شاهدان
هرانسان مجادله کړی حشر هیر کړی
شی به نیغ ممتحنه کښ صف پشان
په جمعه منافقون په تعابن شی
طلاق روکړه دے تحریم له ملک ودان
او قلم لیکی حاقه شته په معارج شه
نوح او جن اومزمل دد ے داعیان
مدثر له قیامت دهر بهتر دے
مرسلات نباء ددی دی گواهان
نازعات او عبس بل کورت
انفطار مطففین دی تول یوشان
انشقاق چه د بروج شی اے طارقه
نوخوک اعلی څوک عاشیه فجر پشان
په بلد کښ شمس او لیل پسي ضحی شی
انشراح له تین علق دی موجودان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

قدر وکړه بینه او زلـزال شــته دے
عادیات په قارعـــه کـښې وی روان
تکاثر باندے دے عصر تباه نکړے
همــــزه وائی چه هــلاک شو خارثـان
فیل قریش ته ماعون کړل رب جلیل
په کــوثر دے کافـــرانو له حرمــان
نصر هله په لهب شی چه اخلاص شی
فـــلق ناس دی ملغلرے دسبحـــان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

# شروط الصلاة

د مانځه دپاره اته شرائط دی (۱) په عامو اوبو بانده اودس کول (۲) د لوئے او د وړے پلیتئ نه د جامے پاکول (۳) پاکوالے د ځائے (۴) پاکوالے د بدن (۵) د عورة پټول (۶) قبلے ته مخ کول (۷) نیت کول (۸) پیژندل د وختونو د مانځه .

اشعار

مانځه لره شروط پوره اته دی مهربان
په مطلق اوبو بانده اودس ده شم قربان
په خاوره تیمم ده که اوبه مذکورے نه وي
پاکوالے د جامے او د بدن بل د مکان
عورت خپل پټول دی بیا قبلے ته مخ کول دي
ووم نیت ده په آخر کښ د وختونو ده عرفان
پدیکښ که یو شرط شو چانه پاتے مونځ باطل ده
په هر صورت کښ نه کیږی عمد وی که نسیان

# ارکان الصلاة

ارکان د مانځه شپږ دی : (۱) تکبیر اولی (۲) قیام (۳) قراءة (۴) رکوع (۵) سجده (۶) قعده اخیره .

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

## اشعار

ارکان د مانځه شپږ دی یو تکبیر افتتاح ده
قیام.قرآة.رکوع.سجده.قعده ده په خاص شان
پدے کښ چه یو پاتے شی نو مونځ پرے فاسدیګی
لازم ده چه پدے به دوباره کوی اتـــیان

## واجبات الصلاة

واجبات د مانځه اووه دی : (۱) وئیل د فاتحے (۲) قعده رومبی، (۳) وئیل د تشهد په قعده اخیره کښ (۴) تیز وئیـل د قـراءة پـه جهری مونځ کښ (۵) پټ وئیل د قراءة پـه خفـی مونځونـو کښ (۶) وئیل د قنوت په وتر کښ (۷) تعدیل د ارکانو .

## اشعار

واجب دی پوره اووه یو دے قرآة د فاتحے
قاندے اولنۍ ته هم واجب وائی ملـــــیان
قرآة د تشهد په ثانیه کښ ضـــــروری دے
په وترو کښ قرآة دے د قنوتو پوه کړه خان
جهریو کښ امام به تلاوت کوی په جهر
سریو کښ اخفاء ده بل تعدیل دے د ارکان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

په هیره که دد ے نه کوم شے پاتے شی سجده دد
په قصده پریخودو سره په مونځ کښ د ے نقصان

# سنت

سنت په مانځه کښ څوارلس دی (۱) اوچتول د لاسونو په اولنی تکبیر کښ (۲) کیخودل د ښی لاس په ګس باند ے (۳) وئیل د ثنا (۴) اعوذبالله وئیل (۵) بسم الله وئیل (۶) آمین وئیل (۷) سمع الله لمن حمده وئیل (۸) ربنا لک الحمد وئیل (۹) تسبیحات وئیل په رکوع کښ (۱۰) تسبیحات وئیل په سجده کښ (۱۱) وئیل د تشهد په قعده ړومبئ کښ (۱۲) وئیل د فاتحے په روستنو دوو رکعتونو کښ (۱۳) هغه تکبیرات چه علاوه د اول نه دی (۱۴) سلام وئیل دی .

## اشعار

سنت دی پکښ څوارلس یو لاسونه اوچتول دی
اول الله اکبر سره چه غوګ ته ئے کړی رسان

سم لاس د چپ دپاسه د نامه لاند ے ترل دی
ثنا بل تعوذ او تسمیه دی قدردان

امین .تسمیع په تحمید او رکوع سجده کښ تسبیحات کښ
یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤنلوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

قــرآة د تشهد قـعدے اولـی کــښ په ما گــــــران

قــــرآة د فاتحې دے رکعتونو روستنو کښ

بغيـر د افـتـتاح نه تکبـيـرونه بل ســــــلام

ددے په پريخودو باندے هيڅ شے نــــه لازمــيـگی

په قصده وی که په هيره څکه رب دے مهربان

## مستحبات د مانځه (ص ۱۰)

په مانځه کښ پنځويشت مستحبات دی : (۱) د سـجدے ځـائے تـه کتل (۲) په رکوع کښ خپلو قـدمونو تـه کتـل (۳) پـه سـجده کښ نرمې د پوزے ته کتل (۴) په قعده کښ خپلې سينې ته کتـل (۵) پـوره سورة وئيل علاوه د فاتحې نه (۶) تکبير وئيل د مقتدی دی په پټه (۷) لاس په زنگونونو کيخودل او گوتې کهـلاول (۸) غـوړول د مـلا پـه رکوع کښ (۹) د سر برابرول د اوگو سره (۱۰) پورته کول د سـر د سمع الله لمن حمده سره (۱۱) سجدے له تلو پـه وخـت کښ اول زنگنان کيخودل (۱۲) لاس کيخودل پس د زنگنانو نـه (۱۳) پـوزه کيخودل پس د لاسونو نه (۱۴) تنـدے کيخـودل پـس د پـوزے نـه (۱۵) جدا کول د لاسونو د ترخونو نه (۱۶) خيته د پتنانو نـه لـرے ساتل او زنانه به ئې جخت ساتی (۱۷) د خپو گوتې قبلې تـه مخـامخ کول (۱۸) اچتول د سرد تکبير سره (۱۹) تسبيحات وئيل په سجده کښ برابره خبره ده که درے وی که پنځه او کـه اووه (۲۰) پورتـه

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

کول د لاسونو روسته د پورته کولو د سر نه (۲۱) پورته کول د زنگونونو روستو د پوره کولو د لاسونو نه (۲۲) دویم رکعت کښ د دویمے سجدے نه روستو په گسه خپه باندے کیناستل (۲۳) سمه خپه اودرول او گوتے قبلے ته مخامخ کول (۲۴) لاسونه په پتنانو باندے کیخودل او گوتے کهلاوهل (۲۵) پس د تشهد نه درود وئیل په نبی علیه السلام او بیا خی او گس طرف ته سلام گرځول او بیا د نبي علیه السلام نه نقل شوے دعا گانے لوستل .

## اشعار

پنځویشت مستحبات دی په مانځه کښ ځان خبر کړه

ولاړه کښ سجدے ځائے ته کتل دی قدردان

رکوع کښ خپلو خپو ته په سجدے کښ سر د پوزے

نظر کښ راوستل دی دغه کار دے ډیر آسان

په ناسته مونځ کونکے به سینے خپلے ته گوری

سیوی د فاتحے پوره سورة دے د قرآن

په پته تکبیرونه مقتدی لره وئیل دی

ووم لاس په زنگنونو کیخودل دی مهربان

اتم ملا غوړول دی په رکوع کښ اے طالبه

نهم سر کښ به ئے نه وی د اوگونه څه میلان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

لسم سر اوچتول دی په تسمیع څه یؤلـــــــم
سجدې ته رسیدو کښ کېـــخودل دی زنگنـــان

لاسونو پسې پوزه بیا تندې خپل کیخودل دی
لاسونه د ترخونو جدا کـــــول واوره بـــیان

سرې به خپله خیته پتنانونه جــــدا کـــــړی
پیوسته به ئې ساتی دغه دې حـــکـــم د زنـــــان

قبلې ته د خپو گوتې مخ کول دی وولـــسم دی
بل سر اوچتول شو په تکبیر واوره اعــــــلان

سجده کښ تاق وئیل د تسبیحاتو مســتــحــب دی
که درې وی که پنځه وی یا شی ووه ته رســــــان

شلم لاس پورته کول روستو د سرنه مستحب دی
بیا لاس پسې اوچت به کړی د زمکې زنگـنان

سجدې ثانیې نه دویم رکعت ته چه اوچت شــی
التهٔ خپه خورول پرې کیناستل دی کار آســـان

د ښئ خپې اودرول گوتې قبلې ته مخ کـول دی
کهلاؤ گوتې لاسونه کیخــــودل په پــتـــنـــان

پدغه شان حالت کښ تشهد پکښ لوستل دی
د جبې او د زړه نه چه دې اوبخی ســبحـــان

بیا پس د تشهد نه درود وئیل دی په نبی (ص)
بیا خی اوگس طرف ته دې سلام حق د انسان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

مأثورے دعا ګانے لاس په مخ باندے راخکل
آداب دی مونځ نه روستو بیانئ ئے عالمان

آداب مستحباتو پریخودو باندے څه نــشــته
لیکن په اداء کولو کښ ئے ډیر اجر و احسـان

# مکروهات د مانځه

په مانځه کښ لس مکروهات دی : (۱) بے عـذره پـه پرلـت څـه کیناستل (۲) شمیرل د آیتونو په لاس سـره (۳) څـنګلے غـوړول په سجده کښ پشان د ګیدړ (۴) کتـل پـه سـترګو سـره خـی او ګس طرف ته (۵) پټول د سترګو دی بے د عذر نه (۶) د سترګو اړول څائے د سجدے نه (۷) ستومانی ویستل د بـدن (۸) باسـئ کول ـــ اول خو خوله دے بنده کړی او که بنده نه شی نو ګس لاس دے په خوله باندے کیږدی (۹) لوبے کول خپلو جامو سـره وغیره (۱۰)د صف نه روسته څانله ودریدل .

## اشعار

مانځه کښ مکروهات دی پوره لس څان په خبر کړه
لازم دی مونځ کونکی له چه اوساتی ترے څـــان

بے عذره په پرلت څه کیناستل دی بل شمارل
په لاسو دغه مونځ کښ آیتونو د قـــرآن

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

ګیدړ پشان څنګلے غوړول دی په سجده
کتل خی ګس طرف ته پتهول شو د عینان

د کانړو انړول ځائے د سجدے نه بے حاجته
مکروه دی په مانځه کښ ستومانی ویستل د ځان

باسئ مونځ کښ کول خوله جختول چه کله راشی
که بیا هم منع نشی لاس به ګدی به شفتان

نهم لوبے کول راټولول شو د جامو
یا ځان مشغولول په خپلو لاسو او په زبان

لسم صف پریخودل دی شاته ځانله اودریدل دی
دا یاد کړه دعا اوکړه یادول ئے دی آسان

# مفسدات د مانځه

مفسدات د مانځه څوارلس دی : (۱) غاړه تازه کول بلا عذره (۲) پرنجی کونکی ته یرحمک الله وئیل (۳) اجنبی امام ته فتحه ورکول په مانځه کښ (۴) لا اله الا الله وئیل (۵) ښکاره کیدل د عورة (۶) په تیزه جړا کول (۷) د سلام جواب ورکول (۸) یادیدل د قضا مونځ کچرے صاحب الترتیب وو (۹) عمل کثیر که په لاس وو او که په نور څه وو (۱۰) خبرے کول که عمدا وی اوکه په هیره وی

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

(۱۱) خوراک څکاک کول (۱۲) په مانځه کښې آه کول (۱۳) په تیزه باندې خندا کول (۱۴) بې هوشه کیدل .

## اشعار

چه مونځ پرې فاسدیگی هغه څوارلس دی طالبه
یو غاړه تازه کول دی بـلا عذره د انـــســـان
پرنجی څه اوریدنکی له جواب ورکـــــول لازم دی
په مونځ کښې په جواب سره فاسد شی مونځ د ځوان
دریم فتح ورکول د بل امام ته په مانځه کـښې
په لااله الا الله جـواب کــړی د انـــســـان
عورة ښکاره کــــول شــو بــل آواز اوچـــتـــول
جــړا د مصــیــبــت نه نه دیا د نه د جـــنـــان
په جبه یا په لاس باندې جواب شـو د ســلام
صاحب وی د ترتیب قضائے یا ده شی کوم آن
په لاس یا بل اندام باندې څو ځله کار کـــول دی
خبرے شوے په مونځ کښې په عمد وی که نسیان
خوراک یا سکاک کول شویادخولے نه آه ویستل شو
خندا او قهقهه یا بې هوشی شوه د انـــســـان
په قصد وی که په هیره پدے تولو مونځ ماتــیـگی
واجب پدے انسان دی چه پرے بیا اوکړی اتیان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

# فرائض د اودس

په اودس کښې څلور فرض دی : (١) د ټول مخ وينځل (٢) وينځل د لاسونو سره د څنګلو نه (٣) مسح د څلورمې حصې د سر (۴) وينځل د خپو سره د ګيټو نه .

## اشعار

اودس کښې څلورفرضه مخ اولاس اوخپې وينځل دی
د سر مسح په مينځ کښې ذکر شوې په قرآن
د څائې د راختلو د ويختو نه لاندې زنه
دا حد د مخ وينځلو دې رسا تر ذنان
لاسونه تر پړکو اوخپې ګيټو پورې وينځل دی
د سر په څلورمه حصه مسحه ده عيان
د يو يا څه حصه د يو که پاتې شوه طالبه
مونځ نه کيږی لازم ده اعاده پدې انسان

# سنن الوضوء

په اودس کښې لس سنت دی : (١) په اول د اودس کښې بسم الله وئيل (٢) درې پيرې لاس وينځل (٣) مسواک کول (۴) خوله کښې اوبه اچول (۵) پوزه ته اوبه اچول (۶) د غوګونو مسح کول

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

(۷) د ګیرے خلال کول (۸) هر اندام درے پیرے وینځل (۹) استنجا کول په ګټه یا په لوټه (۱۰) استنجا کول په اوبو باندے .

## اشعار

سنت دی پوره لس په اوداسه کښ بسم الله
سنت دی په اول د اوداسه کښ مهربان

درے ځله لاس وینځل دی مخکښ لوخی کښ وهونه
مسواک دے بل سنت د پاک نبی آخر زمان

خولے پوزے ته اوبه وراچول صفا کول
اوبو د سر څه مسح بیا کول د اذنان

په ګوتو باندے ګیره خلال کول که دا وی ګنړه
رنګیځ ته رسول د اوبو فرض دی هر آن

خلال د خپو د ګتو دے سنت که دا جدا وی
که جحتے وی لوندول ئے فرض عین دی په ما ګران

اتم د هر اندام په درے کرته څه وینځل دی
نهم شوه استنجاء په ګټه لوټه یا دا شان

لسمه استنجاء شوه په اوبو چه دا موجود وی

سنت دی دا کارونه رب دے پوئے کړه په قرآن

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

# مستحبات د اودس

اودس کښې شپږ مستحبات دی : (۱) نیت کول (۲) پرله پسے اندامونه وینځل (۳) شروع کول په خی طرف باندے (۴) لحاظ ساتل د ترتیب (۵) مسح کول د ټول سر (۶) مسح کول د څټ په نوو اوبو سره .

## اشعار

اودس کښې شپږ کارونه مستحب دی نیت کول
بل پرله پسے والـــــے د وینــــځــــلـــــو د ارکان
شروع په خی طرف ده بل لحاظ دے د ترتیب
بل مسح د ټول سر ده رب دے پاس کړه په میدان
اوبو جدیده څه بل څټ مسح کــــــــول دی
د بعض علماء نه منقول دے نکـــــــــــران

# آداب د اودس

د اودس شپږ آداب دی : (۱) خبرے پریخودل (۲) مضمضه او استنشاق کول په خی لاس باندے (۳) پوزه پاکول په ګس لاس باندے (۴) پټول د عورة په بیت الخلا کښې (۵) ځان ساتل د

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔
Scanned by CamScanner

مخ کولو اوشاه کولو د قبلې نه په بیت الخلا کښ (۶) نمر او سپوږمۍ ته نه مخ کول .

## اشعار

آداب د وضوء شپږ دی یو خبرې پریخودل
مګر هغه دعاء چه په اعضاء کړی نادان
په ښي لاس مضمضه او استنشاق دواړه کول دی
په ګس لاس باندې پوزه صفا کول کار د انسان
چه کله استنجا بیت الخلا کښ سرې اوکړی
پکار ده چه عورت به پټوی پدې مکان
قبلې ته مخ کول یا شاه کول نه ځان ساتل دی
لازم بیت الخلاء کښ که صحراء وی که بنیان
شپږ نمر او سپوږمۍ ته نه مخ کول او نه شاه کول
څه فرق پکښ نشته ابادې که بیابان

# نوافل الوضوء

نوافل په اودس کښ شپږ دی : (۱) قبلې ته مخ کول په اودس کښ (۲) وئیل د دعا دی په وخت د وینځلو د هر اندام کښ (۳) وړاندې کول د ګسې خپې بیت الخلا ته (۴) پرتوګ ته

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

اوبه شیندل (۵) لاس راخکل به زمکه پس د استنجا نــه (۶) لاس وینځل پس د راښکلو نه په زمکه باندے.

## اشعار

قبلې ته مخ کول شو په اودس نه استنجاء کښ
اول دے په شپږ نفلو د اودس کښ مهربـــان
دویم ذکر دے د هر اندام وینځلو سره روره
اګر چه علامـــه ابن قـیـم ئـے وئ بطـلان
دریم د ګسے خپے وړاندے کول بیت الخلاء ته
د خئ وړاندے کول چه بهر کیږی دا انـــسان
پرتوګ ته د اوبـــو نوستل پدیکـښ څلورم دی
په زمکه لاس راښکل پس استنجاء کښ دے احسان
شپږم پس د راښکلو لاس وینځل بـره کـتـل
دعا ده په اخلاص د پاک الله عظیم الــشـــان

# مکروهات الوضوء

په اودس کښ شـپږ مکروهـات دی : (۱) مـخ تـه پـه تیـزه اوبـه راخلاصول (۲) په اوبو کښ پوزه سـونړل (۳) خـولے او پـوزے ته په ګس لاس باندے اوبه اچول (۴) خبرے کـول پـه وخـت د

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

استنجا کښ (۵) اچول د بولو او ګندګو دی اوبـو تـه (۶) خپـل عورت ته کتل .

## اشعار

مکروهه دی پوره شپږمخ ته اوبه راخلاصول دی
بل پوزه سونړ کول دی په اوبو کښ قـدردان

په ګس لاس خلے او پوزے ته اوبه وراچـول
چه عذرئے هیڅ نه وی دغه کار کښ دے تاوان

خبرے په حالت د استنجا کښ دی مکـروه
اوبو ته عورزول د بول غائط کښ دے نکـران

عورت خپل ته کتل شپږم مکروه ذکر شـوے
ځان اوساته دد ے اجر به درکړی پاک سبحان

## باب مناهی الوضوء

مناهی د اودس شپږ دی : (۱) اسـراف کـول پـه اوبـو کښ (۲) کم والے کول یعنی ډیرے کمے اوبه استعمالول (۳) مسح په خپـو باندے ما سوی د موزے نه (۴) مسح کول په هغه مـوزه بانـدے چه ډیره شلیدلی وی (۵) ښـکاره کیـدل د عـورت پـه وخـت د اودس کښ (۶) استنجا کول په سم لاس بغیر د عذر نه .

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

اودس کښې مناهي نه اسراف دے بل تقتــير
بل مسحه شوه په خپو لکه کوي ئے رافضـيان
بل مسح د موزو چه په شليدو کښې وی زيـــادت
پنځم چــه په اودس کښې خپل عورت له کړی عيان
شپږم بغير د عذره استنجاء ده په ســـم لاس
ځان بچ کړه مناهي نه چه ته بچ شے د نـيران

# نواقض الوضوء

نواقض د اودس لس دی : (۱) هر هغه شے چه خارج شـی يـو د دوو لارو نه (۲) قے کول به ډکه خوله سره (۳) خوب (۴) په زوره خندا کـول (۵) ليونتـوب (۶) بے هوشـی (۷) وينـه څکـل د کـونی يـا د جورے د بدن نه (۸) هغـه نـشه چـه پـه تلـو کښې فـرق راولـی (۹) توکانړو کښې وينه تلل (۱۰) يقين وی د بے اودسئ او روسـتو شـک وی په اودس کښې .

## اشعار

اودس لــه ماتونکی لـــس څيزونه دی عـــيان
چه يو ددوو لارو څه خـــــارج شی د انـسان
يا غـــير د سبيلين وی سوی بزاق مـــخـاط نه
بغير د بيماری اوبه د غوږ او د عيـــنان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤنلوڈ کیا گیا ہے

Scanned by CamScanner

ریم قے په ډکه خوله شو دریم خوب مستندا
کیه وی یائے اړخ لګـــولے په مـــکان

بل مونځ ذات الرکوع والسجودکښ قهقهه شوه
په مونځ د جنازے کښ صرف مونځ نه شی حرمان

پنځم شپږم جنون او بے هوشی په چا راتلل دی
ووم وینه څکل د کونی یا جورے د انـــسان

اتم هغه نشه ده چه په تلو کښ فرق راشـــی
راجح دے دغه قول دغه وینا کړی صاحـــبان

یقین وی د حدث روستو وی شک په توضی کښ
تو کانړو سره وینه که غالب وی که یو شـــــان

# فرائض د غسل

په غسل کښ درے فرض دی : (۱) خوله کښ اوبـه اچـول (۲) پوزه کښ اوبه اچول (۳) اوبه اچول په ټول بدن باندے .

## اشعار

په غسل کښ درےفرض مضمضه اواستنشاق دی
دریم اوبه راړول شو او وینځل شود خپل ځان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

# سنت د غسل

په غسل کښې شپږ سنت دی : (۱) اول دواړه لاس وينځل (۲) وينځل د فرج خپل (۳) لرے کول د نجاست د خپل بدن نه (۴) اودس کول مخکښې د غسل نه (۵) اوبه اچول په ټول بدن درے کرته (۶) وينځل د خپو دی په په لړکی یا په ګټه .

## اشعار

د غسل سنت شپږ دی دواړه لاس اول وینـــــځل دی
دویم فرض خپل وینځل بل نجاست لر کول د ځان
اودس غسل نه مخکښې صرف خپے لے پریښودل دی
درے وارے په بدن به د اوبو کــوی فیضـــان
شپږم دخپووینځل دی په لـــــــړکی اویا په ګټه
مقصد وی پکښې دا چه دی وینځل په لوړ مکان

# د غسل آداب

د غسل آداب شپږ دی : (۱) پرده کښې غسل کول (۲) خپل عورت ته به نه ګوری (۳) خبرے به نه کوی (۴) وینځل د خپو

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

په آخر کښې (۵) ځان وچول په تولیه باندے (۶) درود وئیل په نبی علیه السلام باندے .

## اشعار

آدابو کښې یو غسل داسے ځائے کښې چه پناه وی
عورت خپل ته مه ګوره د خبرو ساته ځـــــان
د خپو وینځل آخر کښې په تولیے ځان وچول دی
درود غسل نه روستو په نبی آخر زمــــــان

# اقسام د غسل

غسل په دوه قسمه دے وجوبی او اختیاطی : (۱) انزال د منئ په شهوة سره (۲) اختیاطی ـــ هغه څوک چه پاسی د خوب نـه او منی ئے یا مذی ئے اولیده او ده ته احتلام یاد نه وی نـو حکـم بـه کولے شی په غسل باندے اختیاطا . ( تفصیل فی الاشعار)

د غسل دوه اقسام دی وجـــوبی او اختیاطــــــی
اول له درے اسباب دی ځان پرے پوهه کړه طالبجان
په تړوپ او په شهوت سره منی خارجیدل دی
سرے وی او که ښځه که اوده وی که یقظان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

په حیض او په نفاس باندے هم غسل لازمیګی
چه کله پاکی راشی کړی په غسل به اتـــــیان
مـــنی مذی وتل وی لیکن خوب ورته یاد نه وی
اخـــتـــیاط دپاره غسل نه چه فـــرض په قرآن

## باب الغسل المسنون

په نزد د امام ابوحنیفه رحمه الله باندے اول غسل د جمعے دویـم غسل د اخترونو دریم غسل د ورخ د عرفے څلورم غسل د احرام په وخت د میقات کښ .

جمعے او اخـترونو عــرفے له بل احـــــــرام
مسنون دی څلور غسله دغه قول دے د نعمان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

# د حج یو څو ضروری مسائل

من لسان شیخ الحدیث محمد یارباد شاه صاحب رحمه الله

(۱) اقسام د حج (۲) فرائض (۳) واجبات (۴) سنن (۵) مسنون طریقه د تلبیه (۶) فرق په مینځ د حج د نارینه او زنانه کښ (۷) خصوصی احکام د زنانه .

## اقسام د حج :

حج په درے قسمه دے : (۱) حج افراد (۲) حج تمتع (۳) حج قران

## فی الاشعار :

حج یو داسے فریضه ده د سبحان
مال بدن پکښ کریګی د انسان

علماء ذکر کړی درے قسمونه
یو افراد بل تمتع دے بل قران

## حج افراد :

چه د میقات نه صرف د حج نیت اوتړی پدے قسم حاجی باندے دم

(قربانی) نشته

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

فی الشعر :

چه میقات نه صرف نیت پکښ د حج وی
دے افراد قربانی نشته پـــدے خـــوان

## حج تمتع :

چه د حج په میاشـت کښ د میقـات نـه صـرف د عمـرے نیـت وتـړی د عمرے نه پس په اتمه ورځ د ذی الحجی د حج نیت وکړی .

فی الاشعار :

چه د حج په میاشت کښ نیت ئے د عمرے وی
په اتمه ذی الحجه کښ شی حاجـــــــیان

تمتع سره دا حج دے موسوم شوے
تمتع د حج عمرے پکښ عـــــیان

## حج قران :

چه د میقات نه د حج او عمرے دواړو نیت اوکړی او ځان بـه د اختـر د ورځے پورے نه حلالوی په حاجی قارن او متمتع دواړو باندے قربانی لازمه

## فی الاشعار :

چه میقات نه حج عمرے دواړو له نیت کړی
تر آختر پورے حلال دے نه کړی ځـــان

اصطلاح کښ په قران بللے کـــیږی
قربانی ده دے دوه قسمه کښ قربان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاؤن لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

## فرائض د حج :

(۱) احرام (۲) تلبیه (۳) طواف زیارت (۴) وقوف ( ودریدل په عرفات )

فی الاشعار :

فرائض د حج څلور دی څان خبر کړه
تلبیه پکښ وئیل دی په خه شـــــــان
دریم طواف دے د زیارت زمونږ نصیب شی
عرفات کښ ودریدل دی په ما ګـــــــران

## واجبات د حج :

تعداد یؤلس : (۱) سعی په مینځ د صفا او مروی کښ (۲) وقوف په عرفات د ماښام پورے (۳) جمع په مینځ د ماسپښین او مازیګر مانځه کښ په عرفات کښ (۴) جمع په مینځ د ماښام او ماسخوتن مانځه کښ په مزدلفه کښ (۵) وقوف په مزدلفه کښ (۶) تلل د مزدلفے نه مخکښ د نور (نمر) ختلو نه (۷) باقی درے ورځے درے واړه جمرے ویشتل پس د زوال نه (۸) طواف وداع (۹) ذبح دپاره د حاجی قارن او متمتع (۱۰) سر خرول یا کمول (۱۱) په حالت د احرام کښ تلبیه وئیل .

## فی الاشعار :

واجبات د حج یؤلس دی طالـــبه
وقوف سعی جمعتین دی دوزمان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔
Scanned by CamScanner

بل وقوف مزدلفه کښې بیا ترے تلل دی

د طلوع نه مخکښې مخکښې شم قــربان

د زوال نه پس جمرے واړه ویشتل دی

الوداع طـــواف بل ذبحه د قســمان

سر خرول یا کمول ترے د ویختو دی

په احــــرام کـــــښې تلبیه ده مهربان

## سنن د حج :

تعداد یؤلس : (۱) طواف قدوم (۲) خکلول د حجر اسود یا مسح کـول (۳) مسح د رکن یمانی (۴) دعا او استغفار او درود ونیـل پـه حالـت د سـعی کښې (۵) تکبیر (الله اکبر) ونیل په وخت د استقبال د حجر اسود کښې (۶) تلبیه ونیل پس د هر فرض مانځه نه (۷) غسل یا اودس کـول دپاره د احـرام (۸) دعـا او استغفار او درود ونیل په حالت د طواف کښې (۹) غسل یا اودس کـول دپـاره د ننوتلو حرم ته (۱۰) پس د طواف نه دوه رکعته نفـل کـول او آب زمـزم څکـل (۱۱) په جمره ویشتلو کښې په هر رمی ( ویشتلو ) تکبیر الله اکبر ونیل .

### فی الاشعار :

په تعداد کښې دا سنت کلواجبات دی

یو طواف دے د قدوم واوره بـــیان

خکلول یا مسح کول د الحجر دی

استغفار دعا درود په دو مـــــکان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

مسح کول د یمانی رکـــن دی روره
استقبال کښې د حجر تکبیر کړه جان

تلبیه ده پس د هر فرض مانـــځه نه
وضوء غسل کښې په یو کول اتیان

وضوء غسل نه یو کول دی للدخول
زم زم څکل پس د طواف نه رکعتان

د جمرو څه په ویشتو کښې تکبیرونه
یولـــسم دے د سنن نه دا بـــــیان

## فرق په مینځ د حج د نارینه او زنانه کښې :

(۱) نارینه به سر نه پټوی په حالت د احرام کښې او زنانه به ئے پټـوی (۲) نارینه به ګنډلے جامے نه اغوندی او زنانه به ئے اغوندی (۳) نارینه به پړکے د خپو نه پټوی او زنانه به ئے پټوی (۴) نارینه بـه تلبیـه پـه زوره وائـی او زنانه به ئے په قلاره وائی .

## فی الاشعار :

په احرام کښې هر سړے به سرتور سر وی
پـــټـــول د ســــــر لازم دی په زنـــــان

اغوستل د ګنډل شوی للنسوان دی
استعمال دد ے سړوله د ے عصـیان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔
Scanned by CamScanner

زنانه به تر ګیتو ساتی خپې پټې
د رجالو دی ښکاره ساتل کعبان

تلبیه به ناریـــــنه په زوره وائـــی
زنانوو له په جهـــر کښ تـــاوان

## خصوصی احکام د زنانه :

په حالت مهواری بیماری کښ ټول افعال کولے شی سواء د طواف او سعی نه (۲) په حالت د بیماری کښ ټول اذکار کولے شی سواء د تلاوت نه (۳) په صورت د بیماری کښ طواف زیارت ته حصاریدل ضروری دی او طواف وداع ته حصاریدل ضروری نه دی .

## فی الاشعار :

ټول افعال دے له جائز دی مهواری کښ
طواف سعی نه به لرے ســـاتی خـــان

دے حالت کښ د زیارت طواف کول دی
وداعـــی کښ لازم نـدی کار آســـــان

بیماری کښ ټول اذکار دیله جائز دی
تلاوت به صرف نه کړی د قــــرآن

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

## مسنون طريقه د تلبيه :

په تلبيه کښې څلور ځل ساه ودريدل او دمه کول ضروری دی يعنی داسے وئيل :

لبيک اللهم لبيک لبيک لا شريک لک لبيک

ان الحمد والنعمة لک والملک لاشريک لک .

فی الاشعار :

څلور ساوو کښې وئيل د تلبئے دی

په لبـيک لبيک اول دوه جملتان

په ثالث کښې په الملک وقف کول دی

لاشـريک له خـتـم شـو بـيان

اتيمو سـره تام شو په احـسان د پاک سبحان

دا چونتس وه هجری او ووم تاريخ وو د شعبان

آخر کښې درنه سوال دے ته ئے قبول کړے مهربانه

کړے دا مه صدقه چه پناه شم دد ے جهان

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner

۱۲ذی قعدہ ۱۴۳۲ ـ ۲۹: ۱۱ مدرسہ بعد الاسباقات الدرسیہ .

ربنا تقبل منا انک انت السمیع العلیم اللھم اعفرلی ولوالدی والاساتذتی اجمعین آمین .

( فرغت من الکتابۃ بمطابق یوم الاثنین ۸ جولائی ۲۰۱۳ عیسوی ربنا تقبل منا انک انت السمیع العلیم وتب علینا انک انت التواب الرحیم کتبہ الاحقر غلام نبی )

یہ کتاب maktabatulishaat.com سے ڈاون لوڈ کیا گیا ہے۔

Scanned by CamScanner